محمد انور آخر
۲۰۲۲/۱۲/۲۴

# په شریعت کې د سپیو زده کړې

لکه پخوا مو چې د نجونو د زده کړو په اړه اوږدې لیکنې کړي وې او په اسلامي شریعت کې د نجونو د زده کړو فرضیت مو ثابت کړی ؤ، له بده مرغه دا دی اوس بیا پر ښوونځیو سربېره د نجونو پر وړاندې پوهنتونونه او کورسونه هم وتړل شول چې د افغان ولس لپاره او نړیوالو ته ډېره د خواشینۍ خبره ده.

نه یوازې دا چې د نجونو زده کړې فرض دي بلکې د ځناورو لپاره هم زده کړې اړینې دي چې د تربیه شویو ځناورو د تربیې له امله مسلمانانو لپاره حرام خواړه حلالیږي (المایده: ۴ آیت) چې د لیکنې په بهیر کې به رڼا پرې واچول شي.

د انسانانو او حیواناتو لپاره اړونده زده کړې خورا مهمې دي چې لومړنۍ فطري زده کړې د مور د شیدو رودلو څخه پیلیږي، پوهېږو چې الله تعالی په ژوندیو موجوداتو کې انسانانو ته لویه پوهه ورکړې ده ﴿الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ(۴) عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ(۵)﴾

ژباړه:«هغه چې د قلم په وسیله یې علم ورکړ. انسان ته یې هغه علم ورکړ، چې نه پرې پوهیده.» (د علق سورت)

د همدغې پوهې پر بنسټ انسانان په خپلو کورونو، ښوونځیو او پوهنتونونو کې خپلو ماشومانو ته زده کړې ورکوي او ډول، ډول ځناور هم روزي لکه: اوښان، پیلان، آسونه، غواګانې، سپي او نور... له یادو حیواناتو څخه په قرآن کریم کې د ښکاري سپیو په هکله رب العالمین داسې فرمایلي دي:

﴿يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ ۖ فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾

ژباړه:«خلک له تا پوښتنه کوي چې هغو ته څه شی حلال کړای شوي دي، ورته ووایه: تاسو ته ټول پاک شیان حلال کړای شوي دي او کوم ښکاري ځناور چې تاسو روزلي وي، هغو ته مو د خدای درکړي علم پر اساس د ښکار تعلیم ورکړی وي، هغه چې کوم شی ستاسي لپاره ونیسي، د هغه خوراک هم تاسي ته روا دی، البته پر هغه د الله نوم واخلئ او د الله د قانون له ماتولو څخه ووېرېږئ، د الله په حساب اخیستنه کې څه ځنډ نه راځي.» (المایده: ۴ آیت)

په نوموړي آیت کې انسان ښکاري ځناور ته د هغې پوهې پر بنسټ زده کړې ورکوي چې الله تعالی انسان ته ورښودلي ده، حکم شوی دی چې کله په ښکار پسې روزل شوی ځناور خوشې کوئ نو د الله نوم یاد کړئ، په دې اړه د پیغمبر (ص) یو حدیث دی چې وايي: عدي بن حاتم وايي: ما د نبي (ص) څخه د سپي د ښکار کولو پوښتنه وکړه، نبي (ص) وفرمایل:«کله چې ته خپل روزل شوی سپی پرېږدې او هغه ښکار وکړي نو هغه خوره، خو کله چې هغه سپی هغه ښکار په خپله وخوري نو هغه مه خوره، ځکه چې هغه ښکار هغه د خپل ځان لپاره نیولی دی. ما وویل چې ځینې وخت چې زه خپل سپی [په ښکار پسې] پرېږدم نو د ښکار په وخت کې له هغه سره بل سپی هم مومم. رسول الله (ص) وفرمایل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

هغه ښکار مه خوره ځکه چې تا د ښکار په وخت کې په خپل سپي بسم الله ویلي وه، نه په بل سپي. (صحیح بخاري. ۱۷۵ او نور)

په ځینو نورو حدیثونو کې، پرته له روزل شویو سپیو څخه چې څوک نور سپي ساتي هره ورځ یې له ښو اعمالو څخه څه برخه کمیږي او په نورو حدیثونو کې د ځینو سپیو د وژلو حکم هم شوی دی، پرته له دې چې لیونی وي. په دې بنسټ علماوو ویلي دي چې یوازې د تربیه شوي سپي د ښکار شوي غوښې خوړل روا دي. د المایدې سورت د ۴ آیت په تفسیر کې په کابلي تفسیر کې راغلي دي:«... په هغې طریقه سره چې تعلیم ورکړی شوی وي چې په شریعت کې د اعتبار وړ وي یاني: سپي او نورو ته داسي تعلیم ورکړی شوی وي چې ښکار ونیسي او خپل ښتن ته یې راوړي.»

نه یوازی دا چې سپي د ښکار کولو په موخه تربیه کیږي بلکې حکومتونه یې د امنیتي پېښو د مخنیوي، چاودیدونکو توکو او مخدره توکو د موندلو په موخه هم روزي.

وګورئ د یو تربیه شوي سپي او کوڅه ډب سپي تر منځ څومره توپیر دی، د تربیه شوي سپي ښکار حلال او د کوڅه ډب سپي ښکار حرام دی، دا زده کړې دي چې سپیو ته هم یو ډول مقام وربښي.

او په دې خو ړوند، کوڼ هم پوهیږي چې یو بې سواده او ناپوهه ښځه د خدای تعالی پر وړاندې لوړ مقام لري؟ که یوه ډاکټره میرمن؟ چې د زده کړو له برکته داسې لوړ مقام ته رسیدلي ده، که د یو انسان د ژوندي پاتې کیدو سبب شي، داسي وبوله لکه د ټولې نړۍ انسانان یې چې ژغورلي وي:

﴿وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا﴾

ژباړه:«او چا چې څوک له مرګ څخه وژغوره، داسې وګڼه لکه چې هغه، ټولو انسانانو ته، ژوند وربخښلی وي.» (المایده:۳۲)

نېټه: ۲/ ۱۰/ ۱۴۰۱ل. ل

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ